د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره

د پالیسي پاڼو لړۍ

# د کوکنارو د کرکیلې کمول: اغیزې او لاملونه

جي لمي

د ۱۳۸۹ کال د وري میاشت

## لنډه کتنه


په افغانستان کې د نشه ای توکو پر وړاندې د مبارزې پالیسي ددې پر ځای چې د ایډیولوژیو او انګیرنو څخه رامینځ ته شي باید هڅه وکړي څو د شواهدو پر وړاندې ځواب ویونکې واوسي. د کوکنارو تولید او سوداګرۍ د ګڼو اقتصادي، سیاسي او چاپیریال پورې اړوندو هڅوونکو سره د تطبیق وړاو ځواب ویونکې ده. په عین حال کې د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې پالیسي په خاصه توګه د ډګر څخه لیرې اکثراً د سیاسي خبرو اترو له لارې رامینځ ته شوې ده. له دې کبله که څه هم چې د نشه ای توکو په وړاندې د مبارزې پالیسي بې حرکته نه ده دا د افغانستان د کلیوالو واقعیتونو د تکامل تر شا د بدلون په حال کې ده.

دغه پاڼه د تریاکو د اقتصاد په اړه د څو کلنو څیړنود تولګې د ۱۳۸۹ کال د تلې د میاشتې محصول پورې اړوندو پریکړو په ګډون څیړنې پربنسټ جوړه شوې او ددې پراخ استدلال پر بنیادځینې مهمې موندنې اوسپارښتنې وړاندې کوي :

- هغه کسان چې د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې د پالیسی جوړونکي او پلي کوونکي دي باید تل هڅه وکړي چې پالیسي د شواهدو پر بنسټ ولاړه او دا باید ومني چې دا ډول پالیسي باید تل د شرایطو د بدلون سره سمون ولري.
- د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې د پرمختګ اقدامات باید د ځايي شرایطو سره سم منل شوي وي. او که داسي ونه شي نو د یو غلط تعبیر او د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې د ځانګړو اقداماتو د غلط نسبت ورکولو ګواښ، او ددې تعقیب کیدای شي چې د کوکنارو په کرکیله کې بې ثباته کمښت را مینځ ته کړي.
- د نشه ای توکو پر وړاندې د مبارز پالیسي باید د کوکنارود تولید د باالقوه کمښت د منفي پایلو په وړاندې ځواب ویونکې او مسووله واوسي، کوم چې په مخ په زیاتیدونکې کلیوالي بیوزلی ، د حکومت په را ټیټ شوې مشروعیت او د بلواګرو په ملاتړ کې څرګندیدای شي.


## ۱. په افغانستان کې د نشه ای توکو په وړاندې د مبارزې پالیسي

په افغانستان کې د نشه ای توکو په وړاندې د مبارزې پالیسي یو لړ بیلا بیل اقدامات په ځان کې رانغاړي چې ترکیب او تمرکز یې د وخت په تیریدو سره وده کوي. د نشه ای توکو پر وړاندې مبارزه د افغانستان په ملي پراختیایي ستراتیژۍ

کې یوه پراخه مسأله ده، خوددې لپاره چي دا د نشه ای توکو پر وړاندې د مبارزې د وزارت او د نشه ای توکو د کنټرول د ټولنې انحصاري دندې په توګه ونه انګیرل شي،لا تر اوسه هم د کلیو د پراختیا او حکومتدارۍ په بیلګو کې د نشه ای توکو په وړاندې د مبارزې دپالیسي یوځای کیدو ته اړتیا لیدل کیږي.[1] په سکتور کې د پاییدونکې پراختیا لپاره د پالیسي ځینې مهمې تکلارې دادي:

د مشروع معیشت پیاوړې کول او متنوع کول: د کلیو د پراختیا نوښتونه چې په مشروع کرهنه کې د ښکیلیدو لپاره فرصتونه او

[1] "په افغانستان کې د نشه ای تکو پر وړاندې مبارزه: نه بریالیتوب" د دیوید مینسفیلډ او آدم پین لیکنه( کابل: د افغانستان د څیړنې او رزونې اداره،۱۳۸۷)

پــه وروستیو کلونو کې د افغانستان د څیړنې او ارزونې ادارې د تریاکو د اقتصاد په اړه یوشمیر کلنې رپوټونه خپاره کړي دي، دي ته د لاس رسی لپاره ددې ادارې ویب پاڼي www.areu.org.af او یا هم ددې ادارې دفتر ته مراجعه وکړئ. ګڼ شمیر یې د دیوید مینسفیلډ لیکنه ده چې ددې پالیسي پاڼې په لیکلو کې یې هم خپلې ارزښتناکې مرستې نه دي سپمولې.

### د لیکوال په هکله


جي لمي د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې د خپرونو د څانګې لوړ پوړی مدیر دی. نوموړی پخوا تر دې خبریال ؤ او په تایلنډ او کمبودیا کې د یو پراختیایي کارکوونکې په توګه د سونامي د مرستو او د عایداتو د مینځ ته راتګ د پروګرامونو مدیریت یې پر غاړه درلوده .


### د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې په هکله

دافغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکو او پالیسی پورې اړوندو څیړنو له لارې پرپالیسی او چاروم‌ثبتې اغیزې دي او د څیړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه د څیړنې پایلې په چټکه توګه خپروي.


**پته:**

د ګل پلورلو سړک (د دوهمې کوڅې کنج)، نوی ښار، کابل

ټلیفون: ۰۷۹۹ ۶۰۸ ۵۴۸

ویب پاڼه: www.areu.org.af

برښنالیک: areu@areu.org.af

هڅونکي پیاوړي کوي چې دواړه هم د خوړود خوندیتوب او هم د عایداتو د را مینځ ته کولو لپاره د نشه ای توکو په وړاندې د مبارزې د پالیسی د مهمو عناصرو څخه ګڼل کیږي(که څه هم چې ددې موخه یواځې هغه کسان نه دي چې د تریاکو په تولید کې بوخت دي مګر په ټولیزه توګه د کلیوالو ټولنو د اقتصادي بنسټ د ودې لپاره هم هڅه کوي). دغه تګلاره په پراخه توګه د هغو تګلارو ځای یې نیولی دی چې د "معیشت پر بدیل" یې خورا محدود تمرکز درلود، کوم چې هڅه یې کوله څو بزګران وهڅوي څو په لنډه موده کې د تریاکو له تولید څخه لاس واخلي.

د کوکنارو له مینځه وړل: په فزیکي توګه په ځمکه کې د محصول ویجاړول، او د جرړو ایستل د ودې په لومړي پړاو کې هغه وخت تر سره کیږي چې ګلان ټوکیدلي وي څو په دې توګه بزګرو ته د یو بل ژمني محصول ( اکثراً غنم)د کرولو فرصت برابر کړي او یا ورسته تر دې چې نبات په بشپړه توګه وده وکړي په هغه پړاو کې چې اکثراً دسترې اقتصادي پایلې د له لاسه ورکولو له امله د سخت عکس العمل سره مخامخ کیږي. دکوکنارو د جرړو د ایستلو د اغیزمنتوب په هکله د پام وړ بحث موجود دی خو شواهد څرګندوي چې دا د کرکیلي د اوسنيکچې د څرګندولو لپاره مهم لامل نه دی.[۲] د امریکې د متحدو ایالتونو پالیسي اوس د له مینځه وړلو له کاره یې لاس اخیستی، چې دا اوس د افغان چارواکو مسوولیت دی .

**اختلال:** د نشه ای توکو د کنټرول د ملي ستراتیژۍ یو مهم لومړیتوب د دې توکو د لیږدونکو او دهغوی د ملاتړ کوونکو د په نښه کولو او د سوداګرۍ د بنسټونو د له مینځه وړلو له لارې د نشه ای توکو په سوداګرۍ کې د اختلال را مینځ ته کول دي. چې دا د افغانستان د نشه ای توکو پر وړاندې د مبارزې دپولیسو دنده ده چې د دې قانون پلې کوونکی ځواک بلل کیږي. د ۱۳۸۸ کال د نیمایي راهیسې په افغانستان کې د امریکې د متحدو ایالتونو پوځي عملیاتو کې د هغه لیږدونکو چې د بلوا ګرو سره اړیکه لري په ماهرانه توګه په نښه کول هم شامل شوې دي.

د بریالیتوب کچې : په تیره لسیزه کې، د نشه ای توکو د "بریا لیتوب" کچه د کوکنارو د کرل شوې ځمکې او د له مینځه وړل شوې کښت د هکټار له مخې اندازه کیده. د"کوکنارو څخه د خلاصو ولایتونو"[۳] د شمیر ټاکل په ۱۳۸۶ کال کې د ملګرو ملتونو د نشه اې توکو او جرمونو سره د مبارزې ددفتر(UNODC) له خوا وړاندې شو، کوم چې د شاخصونو تر مینځ دجغرافیایي توپیر یوه درجه یې هم هڅولې ده. که څه هم چې د "کوکنارو څخه د خلاصو ولایتونو" زیاتول په خپل وار سره یوه بشپړه موخه نه ده، ځکه چې دا د کوکنارو د کر کیلي د کمولو د لاملونو، اغیزو یا دوام د ارزولو په کار کې پاتې راغلي ده.

## ۲. د کوکنارو د تولید میلان

د افغانستان په ټولو سیمو کې د سهیلي سیمو په ګډون چې د پاملرنې

په مرکز کې دي په تیرو څو کلونو کې د کوکنارو په کر کیله کې په ټولیزه توګه کمښت لیدل کیږي. په واقعیت کې د کرکیلي کچه په پراخه توګه د بدلون په حال کې ده او د بیلا بیلو لاملونو لکه رسمي پالیسي اوعمل، د تریاکو د ژاولې او د نورو محصولاتو بیه په بازارونو کې، او امنیتي او اقلیمي شرایط په واسطه اغیزمنه شوې ده. په تولید کې د اوسني ټیټوالي د دوام د ارزولو په موخه لازمه ده چې د دې لاملونه، اغیزې او په چاپیریال کې هغه بالقوه بدلونونه وارزول شي چې د تریاکو اقتصاد اغیزمنوي.

## پیاوړې والیان

په ننګرهار او بلخ دواړو کې والیان (ګل آغا شیرزی او عطا محمد نور په تر تیب سره) په بریالیتوب سره د کوکنارود کرکیلي په وړاندې د مبارزې په لار ښوونه کې د ستاینې وړ دي. دوی د لوړې کچې څخه تر ډیرې ټیټې کچې پورې د تریاکو د کښت د کمولو لپاره یې د پخوانیو مجاهدینو د ګډو شبکو، دمشرانو او ځواکمنو کسانو سره اړیکې او ملاتړ، نیونې( ګرفتارۍ)، ګواښونو، د کروندود له مینځه وړلو او د پراختیایي مرستو د ورکولو د ژمنوڅخه یې ګټه اخیستې ده.

ددغو دوو والیانو بریالیتوب څرګندوي چې په مهمو پوستونو کې سیاسي اراده او ځواک د تریاکو د تولید د راټیټولو لپاره خورا ارزښتناکه ده او د پالیسی د تګلارې سره دا غوره ښکاري چې هغه والیان چې د کوکنارو په کرکیله کې د پام وړ کمی رامینځ ته کوي باید وستایل شي. که څه هم چې دا شان ستاینې د هغو خلکو په مینځ کې نارضایتي رامینځ ته کوي چې د معیشت د سختو زیانونو سره سره د هیڅ یوې جبیرې څخه برخمن شوې نه دي نا رضایتي هم رامینځ ته کوي. دا کار کیدای شي چې په حقیقت کې د ولس په نظر کې د حکومت مشروعیت کم کړي. د هغه حقیقت سره چې که چیرې ددغو مشخصو والیانو سیاسي قسمت بدل شي نو دا شان کمښت به ښایي چې با ثباته نه وي، په دې معنی چې هغه ګټه چې له دغو لارو چارو څخه تر لاسه کیږي کمزورې او ژر له مینځه تلونکې وي.

## غنم، بازارونه او د خوړ و خوندیتوب

هلمند، هغه ځای چې د افغانستان نیمایي برخه ترياک په کې تولیدیږي، د کرکیلي دکچې په اغیزمنولو کې د بازار د ځواک اوغوښتنو د څرنګوالي یوه ښه بیلګه کیدای شي. له ۱۳۸۷ کال څخه تر ۱۳۸۸ کاله پورې په ټولیزه توګه د کوکنارو په کر کیله کې کمی را مینځ ته شوی په داسې حال کې چې د غنمو پراخې ځمکې په هغو سیمو کې چې په لوړه کچه باران په کې اوري کرل شوې دي. د کوکنارو کر کیله په دواړو هغو سیمو کې چې والیانو لږ څه کنټرول یې په کارولی او په هغو سیمو کې چې دغه کنټرول نه شته را ټیټ شوی دی.

د خوړواوسنی لوړې بیې د کوکنارو د لږو کرلو په برخه کې د بزګرانو د پریکړو یو ستر لامل بلل کیږي. کله چې په ۱۳۸۷ کال کې د یوه کیلو ګرام غنمو بیه ۳۵ افغانیو ته ورسیده او دې سره جوګت د وچو تریاکو بیه هم ټیټه شوه، نو د تریاکو ډیرې کروندګر د خپلو کورنیو د لګښت لپاره د بسیا غلې د پیرلو په برخه کې له ستونزو سره مخامخ وو. بزګرانو ددې پر ځای چې د بازار له لوړو بیو څخه ګټه پورته کړي د مصرف لپاره یې د زیاتو غنمو د کرلو له لارې یې ددې ستونزې سره غبرګون وښود (لږ شمیر بزګر کولای شي د بازار

---

۲ په هلمند کې بزګرانو د حکومت له خوا د کوکنارود جرړو د ایستلو کارپه وړاندې یې په کلکه بی پروایي ښودله، په داسې حال کې چې ښکاري چې د بازار ځواک د کرکیلي پر پریکړو باندې د پام وړ اغیزه لري، دوهمه برخه وګورۍ.

۳ د ټولي کرکیلي څخه د ۲۰۰ هکتاروسره مساوي او یا تر هغې لږ ځمکې د درلودلو له مخې ټاکل شوی دي.

لپاره د اړتیا څخه زیات غنم تولید کړي).[4]

که څه هم چې د یو کیلو ګرام غنمو بیه ۱۵.۵ افغانیو ته را لویدلې خو بزګرو د ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹ کلونو د فصل لپاره یې ورته پریکړې کړې دي، ځکه چې ګڼ شمیر دا تمه لري چې په پاکستان (چې دغنمود واردولو یوه پخوانۍ سرچینه ده) کې نا امني به بیې بیا لوړې کړي. که څه هم چې په غنمو کې ددې بدلون دوام د باور څخه لیرې ده ځکه چې دا یو ګټور محصول نه دی؛ د غنمو ثابته بیه او د تریاکو د بیې لوړیدل شایي د کوکنارو د کرکیلې زیاتیدل به وهڅوي.

د تریاکو په کر کیله کې بازار د بیو پر بنسټ کمښت په ځینونورو ولایتونو کې په باالقوه ډول زیات پاییدونکی دی. د بیلګې په توګه په مرکزي ولایت غور کې د تیرې لسیزې په مینځ کې یواځې هغه وخت چې د تریاکو بیې لوړې وې نود تریاکو کرکیله په زړه پورې وه. کله چې بیې د محصول سره یو ځای ټیټې شوې (د اقلیمي لاملونوله کبله)، نوزیاترو کروندګرود نورو محصولاتو په خاطر ددې کر کیلې ته یې شا کړه.[5]

## نا امني او بازار ته لاس رسي

که څه هم چې دا بارو شته چې په پاکستان کې نا امنیو د غنمو د بیې په لوړولو کې مرسته کړې ده او په دې توګه په سهیلي سیمو کې د کورنیو د لګښت لپاره د غنمو کرکیله یې هڅولې ده، ځایي نا امنی د بازار لپاره د مشروع محصولاتو د تولید څخه مخنیوی کوي اویواځې تریاک د یو نقدي محصول په توګه پاتې دی. کله چې د سفر لپاره لارې خطرناکې وي نو خرڅلاو ځایونو ته لاس رسي د بزګرو لپاره ستونزمن کاردی او سودا ګرو ته کلیو ته ورتګ ستونزمن برېښي. نو تریاک د بزګرو لپاره یو ډیر په زړه پورې انتخاب ګڼل کیږي: دوی کولای شي په ډیره آساني سره د دې د کرلو لپاره پور تر لاسه کړي، دوی کولای شي چې خپل محصول په کروندو کې وپلوري، او له خرابیدو پرته زیرمه کیدلای شي. په داسې یو حالت کې د بزګرو لپاره تریاک داسې یو انتخاب دی چې د نورو امکاناتو په نه شتون کې تر سره کیږي.

## ۳. د نشه ای توکو او بلواګرۍ په وړاندې مبارزه او د حکومت مشروعیت

د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو یا آیساف د بلواګرۍ په وړاندې د مبارزې ستراتیژي څرګندوي چې"برۍ به هله تر لاسه کیږي چې ولس د حکومت له مشروعیت څخه خوښ او د بلواګرو له فعال او غیر فعاله ملاتړ څخه لاس واخلي".[6]

د نشه ای توکو په وړاندې مبارزه د بلواګرۍ په وړاندې د مبارز ی د ستراتیژۍ په اسنادو کې د پام وړ ونډه نه لري، خو په افغانستان کې د نشه ای توکو په وړاندې د مبارزې پالیسي په کلکه د بلواګرۍ په وړاندې د مبارزې د موخو سره اړیکه لري. که څه هم چې په لنډ مهال کې د کوکنارو د کښت د کمولو د هڅو او د حکومت د مشروعیت د رامینځ ته کیدو او د ولس د ملاتړ د تر لاسه کولود هڅو تر مینځ یو ډول خړ پړ تیا موجوده ده خو په اوږدمهال کې یو پیاوړی او مشروع حکومت او یوداړمن چاپیریال به د کوکنارو د کرکیلې او لیږد د تلپاتي کمښت لامل شي. دا هغه وخت چې د هیواد په سهیل کې د کوکنارو کښت کوونکې سیمې او همدا راز ډیر امن ولایتونه د پوځې کنټرول یا د حکومت تر کنټرول لاندې راوړل کیږي یو ځانګړی ګواښ بلل کیږي.

۴غله او بوس: د افغانستان د کرهینز سیستم په لرلید کې د محصول پاتې شونې او د غنمو د تولید ارزښت (خپور شوی نه دی، ۲۰۰۴)

۵ " له کوکنارو څخه خلاص ولایتونه " د دیوید مینسفیلد لیکنه، د غور څیړکی.

۶ "د آیساف تکتیکي جیبي مأخذ: د بلواګرۍ په وړاندې د مبارزې درک" ( د ۲۰۰۹ کال اکتوبر).

فساد او په نښه کول: په افغانستان کې د بلواګرۍ په وړاندې د مبارز ې د ستراتیژۍ موخه د " نشه ای توکو- بلواګرو د جنایي شبکو" او د "افغان حکومت د نشه ای توکو او فساد د یو ځای کیدنې" ځپل دي.[7] دا احتمال شته چې د بلواګرو سره اړوندو لیږدونکو په نښه کولو ته به خورا ارزښت ورکړل شي( دې ته په پام سره چې د نړیوالو پوځیانود" نیونې یا وژنې " په لیست کې له ۵۰ څخه زیات کسان شامل دي)[8]، چې دا په سهیلي سیمو کې د هغه تصور سره په تناقض کې دی چې حکومتي چارواکې د طالبانو په پرتله د نشه ای توکو په سوداګرۍ کې ډیر ښکیل دي.[9] په فعاله توګه د بلواګرو سره د تړلو لیږدونکو په نښه کول په غیر قصدي توګه د حکومتي اړوندو لوبغاړو د پیاوړي کولو او یا څه نا څه دخلکو په مینځ کې د دا ډول تعبیر د رامینځ ته کولو لامل کیدای شي. دا هغه وخت چې د افغان حکومت د مشروعیت زیاتیدل د بلواګرۍ په وړاندې د مبارزې یوه مهمه موخه وي کیدای شي زیان اړونکې وي. نشه ای توکو پورې اړوند د بلواګرۍ په وړاندې د مبارزې هڅې باید انډولې وي او د حکومت سره اړوندو فعالینو باندې تمرکزهم په کې شامل وي.

له مینځه وړل: که چیرې د له مینځه وړلو د هڅو اساسي نښه هغه کسان وي چې د خپل محصول د ژغورلو لپاره لازمې اړیکې او یا پیسې په واک کې نه لري، نو دا کیدای شي په باالقوه ډول د افغانانو په نظر کې د حکومت مشروعیت زیانمن کړي، چې ددې پېښو شواهد هم موجود دي. د حکومت څخه د خلکو ملاتړکیدای شي چې هغه حالات نور هم زیامن کړي چیرې چې د محصول ویجاړول د کلیوالو ټولنو او حکومت تر مینځ د اساسي مخالفت موضوع ده.

د کوکنارو څخه خلاص ولایتونه: په هغو ولایتونو کې چې د کوکنارو د کرکیلې کچه له مخکې نه ټیټه ده د کوکنارو څخه خلاص حالت ته د رسیدو لپاره دکښت تحمیلي له مینځه وړل یاد نشه ای توکو پرووړاندې د مبارزې نور لارې چارې هم د حکومت مشروعیت یې زیانمن کړی دی."په روان کال کې د ملګرو ملتونو د نشه ای توکو او جرمونو د اداري (NODC) له خوابه ځیني ولایتونه "د کوکنارو څخه د خلاصو ولایتونو" په نامه یاد شي که چیرې د کوکنارو د پاتې محصول په وړاندې "د له مینځه وړلو چارې په وخت تر سره شي"؛ چې دا

۷ د ناتو د نړیوال امنیت د مرستندوی ځواک قوماندان/ په افغانستان کې د امریکې ځواکونه، د آیساف د مبارزې پلان، د ۲۰۰۹ کال د نوامبر میاشت،۱۲سلاید، اصلي لندیزونه پراخ شوي دي.

۸ ایمر کرکس، " د تریاکو سلطانان د وژنې او نیونې د لیست په سر کې ځای لري لکه څرنګه چې طالبان د امریکې نښه ده، د ۲۰۰۹ کال د اګست ۱۱

۹ " له کوکنارو څخه خلاص ولایتونه: یوه اندازه یا یوه نښه" د دیوید مینسفیلد لیکنه ( کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره) د ننګرهار څیړکی

حالت د بدخشان، بغلان، فارياب، کابل، کنړ، لغمان، ننګرهار او سر پل د ولايتونو په برخه کې دی. خو ددې ولايتونو هغه سيمې چې د کوکنارو کر کيله په کې دوام لري اکثراً ډيرې ناامنې او له کرهڼيزه اړخه ګوښې پاتې سيمې دي. د "کوکنارو څخه د خلاصو" ولايتونو په ليست کې د يو شمير ولايتونو زياتول به د حکومت څخه د ټولنو د ليرې کيدو لامل شي په کومو کې چې د يو پاييدونکي بديل نه شتون به په دې مفهوم وي چې د کر کيلې د کچې کمښت به خواشينونکی او هم د هغې ساتل به ستونزمن کار وي.

**د زور له لارې کمول:** په ننګرهار کې خړپړ تيا ددې ځرګندونه کوي چې د زور له لارې د کرکيلې د کچې کمول لکه څرنګه چې مشروع معيشت ته د لورې د بريالي بدلون سره مخالفت لري، کيدای شي چې بيوزلي او بی عدالتی نوره هم دوام ومومي او د حکومت څخه د خلکو ملاتړ به کم شي. په ننګرهار کې د غير کرهڼيزو، د خپلو کروندو او د نورو په کروندو کې د عوايدو تنوع په هغو سيمو کې چې د ننګرهار مرکز جلال آباد ته نږدې پر تې دي خورا ګټوره ده. که څه هم چې په هغه سيمو کې چې خورا ګوښې پاتې دي او د ځمني نقد محصول لپاره پاييدونکیبديل نه شته، لکه د سپين غر په لمنو کې د اچين، خوګيانيو او برو شينوارو په سيمو کې د خپل د معيشت دمعيارونو د ساتلو لپاره هڅې او هاند کوي. د خوړو د اوسنيو لوړو بيو سره جوغت (په ځانګړې توګه په ۱۳۸۷ کال کې) د ترياکو بندول د پام وړ ستونزې رامينځ ته کړې چې دې کار د حکومت مشروعيت ته يې په دې سيمو کې زيان اړولی دی.

## ۴. پايلې او د پاليسی وړانديزونه

که څه هم چې په افغانستان کې د دريم کال لپاره د کوکنارو د کر کيلې کچه ټيټه ده خو ددې ددوام تضمين نه شي کيدای. د کرکيلې ټاکل بيلابيلو لاملونو پورې اړه لري ، چې پرځينو يې نفوذ د پاليسي جوړونکو لپاره ستونزمن کار دی، لکه د بی ثباته امنيتي حالت پيچلې پايلې. بايد د کوکنارو د کرکيلې د کميدلوتر شا عواملو ته پاملرنه وشي او هغه چې د دوامداره مشروع معيشت پر بنسټ ولاړ دي ښايي تلپاتې وي. د کوکنارو له توليد پرته، د ا ډول بدلون د ساتلو او د هغې سره د مرستې لپاره بايد د کليو د پراختيايي نوښتونو د ليرد او همدا راز د داسې يو چاپيريال د رامنځ ته کيدو لپاره هڅې دوام ولري چې د مشروع کرهنې لامل شي. په دې کې د حکومتداری سمون او امنيت شامل دي. ددې بهير د يوې برخې په توګه د نشه ای توکو په وړاندې د مبارزې پوهه د نشه ای توکو په وړاندې د مبارزې هغه کړنې به په باالقوه ډول را ټيټې کړي چې د کليوالي معيشت او د حکومت مشروعيت ته تاوان رسوي، او پرهغو سر چينو به تمرکز وشي چيرې چې د زيات اغيزمنتوب شونتيا يې ليدل کيږي.

په افغانستان کې د کوکنارو د اوسنۍ کرکيلې په اړه د څېړنې موندنې د نشه ای توکو په وړاندې د مبارزې د پاليسی لپاره شپږ عمومي وړانديزونه لري:

۱. د نشه ای توکو په وړاندې د مبارزې په پراخه توګه عقلانې کول: د کوکنارو په کر کيله کې د باثباته کمښت سره دمرستې لپاره بايد د نشه ای توکو په وړاندې مبارزه د کليو د پراختيا، ښې حکومتداری او امنيت د پراخ کاري چوکاټ د يوې برخې په توګه وګڼل شي.

۲. د سيمو پر بنسټ اندازه کول بسيا نه دي: د سيمو پر بنسټ اندازه کول د کوکنارو توليزه هکتار ځمکه او يا د کوکنارو څخه "د خلاصو ولايتونو" شميره ده، چې د نشه ای توکو د مبارزې د "برې" د ټاکلو لپاره بسيا نه ده. د کوکنارو د توليد د راټيټولو لپاره هڅې پرته له دې چې د هغې پراخې پايلې او شرايط په پام کې ونيول شي د هغې د نه دوام، د کليوالو کورنيو لپاره ستونزې او د حکومت په وړاندې د نارضايتی لامل کيدای شي.

۳. پرته له ضرورته کمزورې او بيوزلې مه زيانمنوی: د کښت د له مينځه وړلو بهير هغه بزګر يې په نښه کړې دي چې لږ ترياک توليدوي او ډير کم شمير بديلونه لري، او يا هغه کلي او بزګران چې د خپلو کروندو د ژغورلو لپاره لازمي سرچينې او اړيکې نه لري، چې دا کار ښايي د کوکنارو د کښت د بی ثباته کمښت او يا هم د پام وړ ستونزو د رامينځ ته کيدو لامل شي. سر بيره پردې، انعامونه او پراختيايي مرستې بايد هغو کسانو ته چې ډير اړين دي وليږدول شي.

۴. دې ته دې پاملرنه وشي چې د کرکيلې د پريکړو تر شا څوک او څه دي: د کوکنارو د کرکيلې د کميدو لاملونو او اغيزو ته بايد پاملرنه وشي. د زور له لارې يا د بازار د ارزښت پر بنسټ دکوکنارو د کښت د له مينځ وړلو تګلارې اکثراً بی ثباته او لنډ مهالې وي، او په لازمي توګه د ژوندانه د معيارونو وده او په ښه توګه د ځمکې د کاروني ځرګندونه نه کوي.

۵. د اوږد مهاله بنيادي ژمنې سره د کليو پراختيا ته لومړيتوب ورکول: په افغانستان د کليو د پراختيا توليزسمون د کوکنارو په کرکيله کې د باثباته کمښت لپاره خورا ارزښتناک دی. په خاصه توګه د هيواد په سهيلي سيمو کې کليوالي مرستې د محدود ظرفيت سره د تلپاتې بدلون د رامينځ ته کولو سره د مرستې لپاره په اصل کې د لنډمهاله او کمزورې موخې په توګه پاتې دي. يوازې هغه وخت په کرکيله کې تلپاتې کمښت را مينځ ته کيدای شي چې بزګر د مشروع معيشت له پلوه ډاډه واوسي.

۶. د نشه ای توکو په وړاندې د مبارزې اغيزې دې د بلواګرۍ په وړاندې د مبارزې او د حکومت پر مشروعيت په پام کې ونيول شي: د کوکنارو له مينځه وړل او شنډونه د زړونو او فکرونو د لاسه ته راوړلواو د حکومت د مشروعيت د زياتولو هڅې زيانمنولای شي. سر بيره پر دې د نشه ای توکو په وړاندې د مبارزې نور عملونه د حکومت مشروعيت ته تاوان رسولای شي اود بلواګرۍ په وړاندې د مبارزې د موخو سره مخالفت کولای شي (لکه چې په ننګرهارکې وليدل شول). په داسې حال کې چې کيدای شي وواېو چې دواړه د بلواګرۍ او د نشه ای توکو په وړاندې مبارزې د يو ډاډمن او مشروع کليوالي سکټورپه هکله د ورته ليد لورې د شريکولو لپاره دې په لنډه موده کې د دوی تر مينځ د هغو موجودو خړ پړتياوو د مديريت لپاره هڅې بايد په لاره واچول شي. په پای کې د امنيتي حالاتو ښه کيدل به د نورو کرهنيز بازارونو او کرکيلې د ټاکلو سره مرسته وکړي، او په دې توګه به د کوکنارو په کښت کې کمښت رامينځ ته شي.

طرح او ديزاين: وکيل وسيم